# د عبدالحمید مومند په شعرونو کښې تمثیلي انځورونه

**(Allegories in Hameed Momand poetry)**

محمد ابراهيم همكار*

**Abstract:**

According to the viewpoint of eastern critics, when there is something existing between two compared things in a poem that is combined of few things, (the combined thing means narration). In this case the compared thing (mushabbah) is logical and combined. To prove this, the thing which other thing is compared to it must be touchable and combined. Making allegory means to create a mental, and kind feeling image between two opposite things. These two things may have mental capacities and may belong to different times, and places which are combined together by mental image. The ability of creating mental image is the part of important allegoric power. Abdul Hameed Momand, who was a brilliant poet of his time, has used allegoric images very well in his poetry with too much thinking.

**Key words:** Pashto Literature, Abdul Hameed Momand, Poetry, Allegory.

**سریزه** :

موږ چې کله پر کوم نظم یا نثر خپل نظر څرګندوو، د ډېرې ښېګڼو تر څنګ ئې د انځور راوړو په اړه هم یوه نیمه خبره کوو، چې نظم یا نثر ته ئې په انځور راوړلو ښکلا ورکړې ده. په اوسنیو شاعرانو کښې اجمل اند په کلیوالو انځورونو مشهور دی او د ده شعر ته ئې ځانګړې ښکلا ور کړې ده، لکه:

"څه سترګورې څښورې مسافرې لاړې
خدایه! زموږ د کلي نجونې ځومره لرې لاړې
هسې نه بیا له ژښو تش راولې تول اسونه
دا پاچا و پوښتئ چې کوم خوا ئې لښکرې لاړې
د اند له زړه نه یو چا ځوانې هیلې داسې لوټ کړې
لکه د سپینو غرو له څوکو چې ښښترې لاړې".(1)

عبدالحمید مومند هم په خپل دور کښې ډېرې عیني او خیالي (ذهني) انځورونه په خپله شاعرۍ کښې راوړي دي، چې د ده د شعر کمال ئې ګڼلای شو. دی وایي:

" تللې اوبه بیا په بېرته ودري له شوقه
چېرې چې واقع شي شست و شوی په جوی د ستا".( 2)

* P.hD Scholar, Department of Pashto, Kabul University.

**موخې**:

۱. په شاعرۍ کښې د انځور ارزښت څرګندول
۲. د عبدالحمید مومند په شعرونو کښې د انځور پالنه په ډاګه کول
۳. د محصلانو او مینه والو له انځوریزې شاعرۍ سره بلدول

**پوښتنې**:

۱. په شعر کښې تمثیل او انځور څه شي ته وايي؟
۲. آیا په شعر کښې انځورونه راوړل شعر ته ښکلا ورکوي؟
۳. آیا عبدالحمید مومند په خپل شعر کښې تمثیلي انځورونه راوړي؟

**کړنلار**:

د دغې څېړنې ډول کتابتوني، میتود ئې توصیفي او تشریحي دی. ما لومړی د موضوع اړوند د عبدالحمید مومند په کلیاتو کښې هغه بیتونه په نښه کړل چې په موضوع پورې ئې اړخ لګاوه او بیا مې له طرحې سره سم تر خپلو سرلیکونو لاندې تنظیم او شرحه کړي دي.

**د عبدالحمید مومند لنډه پېژندنه**:

" عبدالحمید مومند د (۱۰۷۵ه) کال خوا او شا د پېښور په ماشو کلي کښې زېږېدلی دی او په (۱۱۴۵ه) کښې وفات شوی دی. په (۱۱۳۷ه) کال کښې ئې ( شاه ګدا ) کیسه لیکلې ده. دیوان ئې ( درمرجان ) نومېږي، بل اثر ئې ( نیرنګ عشق ) دی". ( 3)

"کله چې د نوموړي ( شرعة الاسلام ) اثر پیدا شو نو ژوند ئې تر (۱۱۴۸ه) یقیني شو". (4)

نور ئې د ژوند حالات په تیارو کښې دي. د دې لپاره چې موضوع ښه روښانه شي لومړی د تمثیل او بیا د انځور شرحه وړاندې کوو او بیا به ئې په ترتیب سره د عبدالحمید مومند په شعرونو کښې بېلګې راوړو.

**د تمثیل لغوي او اصطلاحي پېژندنه**:

" تمثیل په لغت کښې مثال راوړل، د یو شي ورته کول له بل شي سره، د یو شي انځورول، د لیک په واسطه د یوشي یا چا د صورت انځورول تر داسې کچې، چې ته به وائې هغه وینم". (5)

" تمثیل ته په انګریزي ژبه کښې (Allegory) اصطلاح ټاکل شوې ده، چې له آره هغه نمایش یا ننداري ته ویل کېږي، چې پر سټیج په آزاده هوا یا خونه کښې د حرکاتو په واسطه را منځته کېږي".( 6 )

"د ختیځوالو ادبي کره‌کتونکو په نظر په شعر کښې که چېرته د مشبه او مشبه به تر منځ وجه شبه مرکبه وي یعنې د څو کلمو له ترکیب څخه لاسته راغلې وی او یا هم مشبه به

پکښې د مثال ( مثل ) یا حکایت بڼه ولري، چې په دغه صورت کښې مشبه معقول او مرکب وي، د ده د اثبات لپاره مشبه به مرکب او محسوس راوړل کښېږی". (7)

بل ځای شمیسا لیکي:

" تمثیل (Allegory) د مشبه او مشبه به تر منځ دوې ګونې اړیکه ده، په تمثیل کښې هم بنسټیز کار دا دی، چې یوازې مشبه به ( چې اوږد کلام او جمله مثلاً حکایت دی نه کلمه ) ذکر کېږي، چې له دې څخه د مشبه په لوري متوجه کېږو خو کله کېدای شي مشبه هم راوړل شي". ( 8)

لاندې بیت و لولئ:

غره مه شه که په پښو دې ناخوال پرېوت
د سیلاب له پابوسیه دیوال پرېوت".(9)

ښاغلی ګل پاچا الفت وایي: ((تمثیل دې ته وایي، چې شاعر او ادیب مضمون یا یوه مانا داسې بیان کړي، چې اصلي صورت ئې سترګو ته ودرېږي، تمثیل هم په شعر کښې یو بنسټیز جز ګڼل کېږی او زښت ډېر ارزښت لري.

" ارسطو شعر پر محاکاتو او تمثیل ولاړ بولي، که په کوم شعر کښې دا دوه توکه نه وي، شعر نه بلل کېږي". (10)

**د انځور لغوي او اصطلاحي پېژندنه** :

" انځور په لغت کښې رسم، کښېدې، نقش، نښان، نمونې او علامې ته وایي". ( 11)

په اصطلاح کښې انځور ځینو کره کتونکو په لاندې ډول تعریف کړی دی:

" ډېر ساده شکل انځور دی، چې د هغه په مرسته کلمې جوړې شوې دي نو توصیف یا ستاینه، یوه استعاره، یوه تشبیه، کښېدای شي یو انځور وي". (12)

انځور په یوه ټاکلې نقطه کښې د کلمو په وسیله د دوو متغایرو څیزونو په یوه حلقه کښې راوړل دي. دغه دوه یا ډېر څیزونه کېدای شي عاطفي او یا فکري ظرفیتونه ولري او هم په مختلفو وختونو او ځایونو پورې اړه ولري چې د انځور په وسیله په یو ځای را جمع کېږي. د انځور جوړونې ځواک د تمثیل د ارزښتمن ځواک برخه ده.

" انځور جامع او کلي کلمه ده چې هر ډول تشبیه، استعارې، سمبول او اسطورې پکښې شاملې دي". ( 13)

په انځور جوړونه کښې خیال بنسټیز توکی ګڼي:

"خیالونه یعنې حسي تجربې، د عاطفي تجربو د لېږد واسطې ګڼل کېږي". (14)

" په انځور کښې ډېر ځله بې سا شیانو ته حرکت او د ژوندیو شیانو بڼه ورکول کېږي نو د حواسو په واسطه د یو شي انځور له اصلي شکل څخه په غیر اصلي شکل د انځور له لارې را مخې ته کښېږي. په انځور کښې په څرګند بڼه کلمې او په باطني بڼه احساسات او فکرونه را مخې ته کېږي. انځور تل هڅه کوي، چې شعر د لمس وړ وګرځوي". (15)

د پورته تعریفونو په رڼا کښې راځو په شعر کښې تمثیلي انځورونو ته.

**تمثیلي انځورونه**:

د تمثیلي انځورونو په اړوند د تېرو تعریفونو په رڼا کښې دوې عمده خبرې زمونږ مخې ته راځي:

۱. یوه هغه چې انځور د مثال بڼه خپله کړې وي ، لکه د حضرت عبدالرحمن بابا په لاندې بیتونوکښې:

"کریمانو سود مونډلی دی په زیان کښې
لکه ښاخ د ونې و تراشې باردار شي
خزانه په سخاوت سره زیاتېږي
د کوهي اوبه چې و باسې بسیار شي".(16)

عبدالرحمن بابا د کریمانو په زیان (سخاوت) کې سود لپاره د ونې د ښاخ تراشل او د سخاوت لپاره د کوهي د اوبو په ویستلو د کوهي د اوبو زیاتېدل د مثل په بڼه راوړي دي. عبدالحمیدمومند هم دغه ډول تمثیلي انځورونه په خپله شاعرۍ کښې لري، لکه:

"لکه سپي چې په مرداره سره جنګ
هسې جنګ کا په دنیا بې حیا خلک"(17)
"لکه سېل چې رژوي کمر د شګو
نړوي مې هسې مینه وار په وار" (18)
"په پیرۍ کښې بدکاري هسې شوخي ده
لکه پاخې څوک تر تخت لاندې مواس
لکه وخوري په شکرو کښې څوک زهر
هسې ته له دین بې دینه کړې خنّاس
له هغه صیاده ما و ساته خدایه
چې ئې لومه کړه د رب ثنا سپاس". (19)

۲. بل ډول تمثیلي انځورونه هغه دي، چې انځور په خپل ذات کښې د نمایش او ننداري بڼه خپله کړې وي، لکه لاندې لنډۍ:

په ویاله ټوپ کړه بیا راټوپ کړه چې د اوربل روپۍ دې ګډې وډې شینه

سترګې دې نه دي تمانچې دي     په هر طرف ئې اړوې ډزې کوینه
خبرې کړې شونډې دې رېږدي     لکه سورګل چې د سحر شمال وهینه

عبدالحمید مومند هم په خپل وار دغه ډول تمثیلي انځورونه ځای ځای راوړي دي، چې د بېلګې لپاره ئې لاندې بیتونه راوړم:

"نه پوښتنه سره کا نه مخ کتنه
شا په شا سره تېرېږي اشنا خلک ".(20)
"مخ دې کړل ګلونه شرمنده زلفو سنبل
درومي ستا په لوري له باغ الوځي بلبل". (21)
"تش په توره لکه مار په پردو زرو
پېچ و تاب خوري برناحق شوم و لئیم".(22)
"پو کوي راباندې دم د مینې زر زر
چې کوي را ته خبرې حبیب ورو ورو".(23)

د عبدالحمید مومند په شعر کښې دغه تمثیلي انځورونه بیا په دوو ډولو تر سترګو کېږي: (۱) خنثی تمثیلي انځورونه (۲) متحرک تمثیلي انځورونه.

**خنثی تمثیلي انځورونه** :

دا هغه ډول انځورونه دي، چې حرکت نه لري یوازې د احساس او عاطفي تړون له مخې عقلي یا نامحسوس څیز له محسوس څیز سره په مرکب ډول د انځور په بڼه راوړي:

"بې عمله علمیت څه په کار نه دی
لکه ښځه تر ملا و تړي درسته ".(24)
"په طلب مې د غافل هسې ژړا شي
لکه څوک وي زوی پر غاړه زوی و غواړه". (25)
عشق د بورې د بدنامې کار را وکړ
لاس په خوله ایښی ژړا کړم شب و روز ".(26)
"وچ ګوګل زیړه ګونه اوښلنې سترګې
په دعوی کښې د عشق بویه دستاوېز".(27)
"هسې زه د ځان په غوښو عشق بوخت کړم
لکه نه خېژي له ځانه د پمن لاس ".(28)

کله کله دغسې انځورونه بیا د تشبېه له مخې دواړه ئې مرکب محسوس بڼه خپلوي، چې عیني انځورونه ورته وایي، لکه:

"خال و خط دې هسې چارې په مخ وکړې
لکه ګل شي د هاتيانو په غوبل کښې".(29)
"دا په وچولي تور خال زما د يار دی
که آذان لره ختلی دی بلال ".(30)

**د عبدالحميد مومند په شعر کښې متحرک تمثيلي انځورونه** :

کله کله شاعر په شعر کښې د خپلو احساساتو او عواطفو د څرګندونې لپاره د تشبيه په بڼه داسې تمثيلي انځورونه راوړي، چې د نقش يا ننداري په ډول ذهن ته د حرکت يا خوځښت په بڼه لېږدول کېږي يا مونږ داسې احساسوو، چې انځورونه د حرکت په حالت کښې دي. په دغه برخه کښې د نوموړي په ديوان کښې خورا ډېر بيتونه تر مطالعې لاندې نيولی شوو، چې د ده شعر ته ئې ښکلا ور ښښلې ده او شعري هنر ئې د بشپړتيا کچې ته رسولی دی. څو بېلګې ئې دلته راوړم:

" لاپړکېږي نښتی ښکار تر ښکاري لاندې
ځکه وصل ته حميد کا اضطراب سخت". (31)
"زنګوي هسې ياران د حميد فکر
لکه باد د ګلو ښاخ کا په نڅا ګډ" .(32)
"محبت څيرې ګرېوان زما تېول نه کړ
که پرې سل ځله وهي د عقل ستن لاس ".(33)
"دا ئې خط نشو نما کاندي له مخه
يا نری نری لوګی ځي له څراغ ".(34)
"سرې شونډې دې زېب هسې پيدا په تبسم کا
عين لکه غونچه چې پاڼې و سپړي د ګل ".(35)
"د مظلوم د مال روټۍ خپله بوټۍ خورې
مه شه هيڅ په دا خوراک خوښ و خرم ".(36)
"ما ته ستا حرام خورګي هسې ليده شي
لکه څوک په مشت منډي مار و لړم ".(37)
"چې په بخت پسې د عقل په پښو ځغلم
د مېږي په قدمونو جهان پلم ".(38)
" رستمان د صبر و زهد ستا په در کښې
نڅول شي در په در لکه بيزو ".(39)

"هغه تشې شلومبې شاربې سر خوړی کا
چې ښادي غواړي بې غمه بې منته ".(40)
"چې نا اهلو ته د اهلو وینا وایم
نیسم پوزې ته د خره د ګلو څانګه ".(41)
"که څوک نه پټوي سترګې په حرامو
شي په پښو کښې پېژندی پردی پښه ".(42)
"سترې کښېږی مین زړه په فریاد کله
لکه دود هسې د اور په لمبه سور ځي ".(43)
"چووړی سګ پروري دا هومره نه کا
لکه ته د نس په زېرمه ګرځې ځان خوري". (44)
"ماته سره په وینو خوله لېوه لیده شي
چې د ظلم په پیسه پېروی پان خوري" .(45)
"چې پرې ناست ئې هغه څانګه
پرې کوې خوی د ړانده کړې
هومره خوله لګوې غاپې
تر هغه چې څه په خوله کړې" .(46)
"په دنیا ټپربده ډېره په کار نه دي
څه څملې له بوډۍ غاړه غړۍ ".(47)
"چېر ته عشق چېرته د شرم و حیا وېره
نڅېدل نشي په شرم و په حیا کښې". (48)
"که زاهد ښکلیو ته نه ګوري معذور دی
د لېچنو سترګې برېښې په برېښنا کښې ".(49)
"فارسیانو د حیرت ګوتې په غاښ کړې
چې حمید سخن سازي کړه په پښتو کښې". (50)
"لکه و ښبلي مرغۍ په سست دام د سلو لومو
هسې زه پرېشانو زلفو کښېیستم په کشاله کښې". (51)
"لکه سپی چې په مرداره شا خوا کېږي
هسې ته کس و ناکس په اسره ستائې" .(52)

**د استعارې پر مټ تمثيلي انځورونه**:

"ډبوي پخپله ځان حاکم د عقل
چې د عشق د ملک خراج ته لري شوق". (53)
"زړه مې له غيرته په ګوګل د ننه دود شي
ږمنځ چې دې بې فهمه وهي ګوتې په کاکل". (54)
"د عشق غم مې زړه له غمه هسې خلاص کړ
لکه و باسي شانه له زلفو ګوتې ".(55)

ډبول له بې عزته کېدو او له منځه څخه، پر کاکل د ږمنځ ګوتې وهل او له زلفو څخه د شانې ګوتې ويستل له ږمنځولو څخه استعاره شوي دی چې دلته د تمثيلي متحرکو انځورونو ښې بېلګې دی.

**د مرسل مجاز پر مټ تمثيلي انځور**:

" رقيبان مې دې په آه پورې نه خاندي
د مر دانو دېګ پخېږي په مهال پس ".(56)

په پورته بيت کې ( دېګ ) راغلی دی او مراد ورڅخه په دېګ کې پراته څېزونه دي.

**پايله**: عبدالحميد مومند چې د خپل وخت وتلی شاعر دی، په خپلو شعرونو کښې ئې تمثيلي انځورونه په خورا غور او ښه ډول راوړي دي، چې دغه کار د ده شعر ته د خپلو هم مهالو او يا د ده تر پېر مخکښې شاعرانو کښې يو ځانګړی ځای و باښه. د ده دغو نازکو خيالونو دی د خپل پېر او را وروسته پېر په شاعرانو کښې د ( نازکخيال او باريکبين ) په لقب ملقب کړ. د ده شعر د دې تر څنګ د نفس له مداخلې څخه تر ډېره بريده پاک دی. دی وايي:

"د حميد بوالهوسي ناکسي نه ده
لتېوي په خپله ورکه پسې هر مخ ". (57)

" د خپلې شاعرۍ په اړه وايي:

دانايان به ورته غوږ نيسي حميده
نادان څه پوهېږي ستا په در سفتن ".(58)
"د حميد له فکره مه پوښته عام خلک
د زربفتو قدر څه زده بوريا باف ".(59)
"غير فکر پکښې نشته بې له مينې
درست له دې هوسه پُر دی زما دل ".(60)
"دين مذهب د محبت سراسر حال دی
دلته نشته هيڅ حاجت د قيل و قال ".(61)

د نوموړي په شعر کښې خنثی تمثیلي انځورونه، متحرک تمثیلي انځورونه، عیني انځورونه او ذهني انځورونه په ځپو دي، همدا لامل دی چې شعر ئې اوس هم وګړي خوښوي او پر زړه ئې د ادب او هنر منار جوړوي.

**وړاندیزونه** :

۱. د عبدالحمید مومند په شعرونو کښې د تمثیلي انځورونو په اړوند د یو کتاب په کچه څېړنه وشي.

۲. ښاغلي شاعران دې د خپل شعر د پخلي لپاره د عبدالحمید مومند کلیات په غور سره ځو ځلي ولولي.

۳. د نوموړي د شعر په نورو خواوو لکه منځپانګه او معاني برخه دې ځانګړې څېړنه وشي.

## حوالې

(1) اند ، اجمل، هینداري او چینې. پېښور: دانش خپروندویه ټولنه، ۱۳۸۵ هـ ش، مخ ۴۰ او ۴۱

(2) مومند ، عبدالحمید ، د عبدالحمید مومند کلیات، پېښور : دانش خپروندیه ټولنه، ۱۳۸۳هـ ش،مخ ۱۷

(3) رضا ، افضل، د پښتو غزل، پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسیټي ،۱۹۷۸ع،مخ ۱۹۷

(4) رشاد ، عبدالشکور، د عبدالحمید مومند یاد ، کابل: د افغانستان د علوموا کاډیمي، ۱۳۶۶هـ ش،مخ ۲

(5) د هخدا ، علي اکبر. لغت نامه د هخدا ، جلد پنجم. چاپ دوم، تهران : موسسه انتشارات و چاپ دانشگاه تهران، ۱۳۷۷هـ شو ،مخ ۶۵۷

(6) ازمون، لال پاچا ، . منظوم انځورونه ، ننګرهار: د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه، ۱۳۸۹هـ ش،مخ ۵۵

(7) شمیسا ، سیروس، بیان و معاني، چاپ هفتم.تهران: انتشارات فردوس، ۱۳۸۳هـ ش،مخ ۴۴

(8) همدغه اثر ،مخ ۷۹

(9) عبدالحمید مومند کلیات،مخ ۴۹

(10) ازمون، منظوم انځورونه،مخ ۵۶

(11) مشوانی، عبدالقیوم، زاهد پښتو پښتو سیند ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۵هـ شو ،مخ ۴۰

(12) ازمون، منظوم انځورونه،مخ ۵۱

(13) براهني، رضا ، طلا در مس ( در شعر وشاعري ) دویم چاپ، تهران: کتاب زمان، ۱۳۴۷هـ ش،مخ ۷۶ ، ۷۷

(14) ازمون، منظوم انځورونه،مخ ۵۱

(15) براهني، طلا درمس،مخ ۸۶، ۸۷

(16) عبدالرحمن، د رحمان بابا دیوان، پېښور : دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴هـ شو ،مخ ۳۶۱

(17) مومند ، عبدالحمید ، د عبدالحمید مومند دیوان ( درمرجان)، بنو: د پښتو ادبي مرکز، ۱۳۸۳هـ ش،مخ ۵۰

(18) عبدالحمید مومند کلیات،مخ ۶۹

(19) عبدالحمید مومند کلیات،مخ۸۷، ۸۸

(20) عبدالحمید مومند دیوان درمرجان، مخ ۵۰.

(21) عبدالحمید مومند کلیات، مخ ۱۳۴

(22) همدغه اثر ، مخ ۱۵۴

(23) همدغه اثر ، مخ ۱۷۱.
(24) همدغه اثر ، مخ ۱۹۲
(25) همدغه اثر ، مخ ۲۲۰
(26) همدغه اثر ، مخ ۸۴
(27) همدغه اثر ، مخ ۸۶
(28) همدغه اثر ، مخ ۸۸
(29) همدغه اثر ، مخ ۷۱
(30) همدغه اثر ، مخ ۱۳۸
(31) همدغه اثر ، مخ ۴۷
(32) همدغه اثر ، مخ ۶۹
(33) همدغه اثر ، مخ ۸۸
(34) همدغه اثر ، مخ ۱۱۵
(35) همدغه اثر ، مخ ۱۳۴
(36) همدغه اثر ، مخ ۱۴۵
(37) همدغه اثر ، مخ ۱۴۶
(38) همدغه اثر ، مخ ۱۵۰
(39) همدغه اثر ، مخ ۱۷۸
(40) همدغه اثر ، مخ ۱۹۶
(41) همدغه اثر ، مخ ۲۴۲
(42) همدغه اثر ، مخ ۲۵۵
(43) همدغه اثر ، مخ ۲۶۵
(44) همدغه اثر ، مخ ۲۷۰
(45) همدغه اثر ، مخ ۲۷۰
(46) همدغه اثر ، مخ ۲۷۷
(47) همدغه ، مخ ۲۸۴
(48) همدغه اثر ، مخ ۲۹۶
(49) همدغه اثر ، مخ ۲۹۷

(50) همدغه اثر ، مخ ۳۰۱
(51) همدغه اثر ، مخ ۳۰۱
(52) همدغه اثر ، مخ ۳۱۸
(53) همدغه اثر ، مخ ۱۲۵
(54) همدغه اثر ، مخ ۱۳۴
(55) همدغه اثر ، مخ ۲۶۲
(56) همدغه اثر ، مخ ۹۱
(57) همدغه اثر ، مخ ۵۹
(58) همدغه اثر ، مخ ۱۶۶
(59) همدغه اثر ، مخ ۱۱۹
(60) همدغه اثر ، مخ ۱۳۵
(61) همدغه اثر ، مخ ۱۳۸